د افغانستان اسلامي امارت

د عامې روغتيا وزارت

د مقام د دفترلوی رياست

د ويانـدويي ، اطلاعاتو او عامه اړيکو رياست

# د عامې روغتيا وزارت د فعاليتونو او لاسته راوړنو کلنی راپور

اسد ، ۱۴۰۳ هـ لمريز– سرطان ، ۱۴۰۴ هـ لمريز

## لمړی څپرکی

### ( د وزارت پېژندنه ، اهداف، فعالیتونه او تشکیلاتي جوړښت)

### د وزارت پېژندنه:

د عامې روغتیا وزارت د خپلې رهبري رول پر اساس د نورو اړوندو امارتي، ملي او نړیوالو شریکانو په همغږۍ په هیواد کې د روغتیا او تغذي د پالیسیو- ستراتیژیو ودې، د روغتیایي خدمتونو وړاندې کولو او څارنې مسئولیت په غاړه لري.

د پورته موخو د پلي کیدو په موخه د عامې روغتیا وزارت مرکزي او ولایتي دفترونو له لارې د مؤثرو او مثمرو روغتیایي خدمتونو ته د لاسرسي په موخه نه ستړي کیدونکي هلې ځلې کوي.

### لرلید:

د افغانستان ټول اوسیدونکي به په هیواد کې د ننه په ملي او نړیوالو روغتیایي معیارونو برابر، دلاسرسي وړ، دوامداره او پیرونځواک سره سم له روغتیایي چوپړتیاوو او توکو څخه برخمن وي او په روغتیا سمباله ټولنه به ولري.

### د عامې روغتیا وزارت ماموریت

د افغانستان د عامې روغتیا وزارت د روغتیا ښه کولو، د ناروغیو او مړینو کمولو، روغتیایی خدمتونو ته د لاسرسي زیاتولو او د ټولو افغانانو د هوساینې په موخه روغتیایي ژوند طرز ته د ودې ورکولو مسئولیت لري او د ملي روغتیایي لومړیتوبونو په رڼا کې د پایښت لرونکو پراختیایي موخو ترلاسه کولو او د کورنیو لخوا د لوړو روغتیایي لګښتونو د کمولو لپاره ګامونه اخلي.

یادې موخې د سیاسي ارادې، پیاوړې رهبرۍ او ښې حکومتولۍ تر چتر لاندې د روغتیایي سکتور د ښکیلو لورو سره د همکارۍ او د سرچینو ګټور مدیریت له لارې تحقق مومي.

### موخې:

د هیواد ټولو وګړو ته په مناسبه او ارزانه توګه د کیفیت لرونکي روغتیایي چوپړتیاوو برابرول، خوړو، درملو، روغتیایي محصولاتو رسونه، روغتیایي حقونه تأمینول، د فقر کمول، د ورکړې وړ، عادلانه او مساوي لاسرسي چمتو کول او د پایښت لرونکي روغتیایي سیستم پیاوړتیا ترلاسه کول چې په هیواد کې د روغتیا او تغذي وضعیت ښه والي لامل وګرځي.

### بنسټیز ارزښتونه

عدالت، رښتینولي، طبي اخلاق، وقار او درناوی، مؤثریت او مثمریت، کیفیت، ناروغ محوره خدمتونه، ځواب ویونکي خدمتونه، پایښت، حساب ورکونه، روڼتیا، همغږي او همکاري، د شواهدو پر بنسټ پریکړه، د ورکړې وړ بـــیه، نوښتونه، ټولګډونوالی او بې توپیرتیا، ژمنتیا او مسلکیتوب، د منلو او پلي کیدو وړ، د پایلو پر بنسټ سیستم

## دوامدار فعالیتونه:

1. د ساري او غیر ساري ناروغیو د خپریدو مخنیوي
2. د وګړو د ټولنیزې روغتیا وده، د روغتیایي عادتونو دودول، د روغتیایي خدمتونو څخه د ګټې اخیستنې کچه لوړول او د ناروغتیایي عادتونو سره مبارزه کول.
3. د لومړنیو ، دویمي ، دریمي روغتیایي خدماتو تر څنګ د عدلي طب اړوند خدماتو وړاندې کول.
4. په هیواد کې د چاپیریال ساتنې، د څښلو اوبو ، د روغتیایي او خوراکي توکو او د با کیفیته درملو موجودیت څخه د ډاډ تر لاسه کولو لپاره د اړونده برخو سره همغږي او کړنې تر سره کول.
5. د شته روغتیایي مرکزونو له لارې معیاري روغتیایي خدماتو رامینځ ته کول او اړونده خدماتو ته پراختیا ورکول.
6. د روغتیایي کارکونکو د روزنې برنامو پراختیا او بشپړول، د روغتیایي کارکوونکو د تخصصي کچې لوړول او د روغتیا په مختلفو برخو کې د علمي څېړنو پرمختیا.
7. په منظم ډول د روغتیایي وضعیت ارزونه او د وژونکو او وبایي ناروغیو د مخنیوي او مهار کولو لپاره کوښښ کول
8. د ټولنې د روغتیایي وضعیت د ښه والي، حفظ الصحې او ښې تغذیې لپاره په ځانګړي ډول د مور او ماشوم د روغتیا په برخه کې د پالیسیانو، تګلارو، پروګرامونو او پلانونو جوړول او پر وخت د لازمو اقداماتو ترسره کول.
9. د روغتیایي ستونزو د حل په موخه په بیړنیو حالاتو کې د دولتي او غیر دولتي ادارو سره همغږي او خدمات ترسره کول .
10. د عادلانه روغتیایي خدمتونو وړاندې کولو لپاره د سرچینوپیژندنه، راجلبول ، په خوځښت راوستل او ور څخه په اغېزمنه توګه ګټه اخیستل.
11. د روغتیایي خدماتو د معیاري کولو په موخه حکومتي او خصوصی روغتیایي مرکزونو ته اعتبار ورکول
12. د روغتیایي سیستم معیاري کول او د سټنډرډونو په را منځته کولو سره د روغتیایي کارکوونکو د کاري جوازونو د معیاراتو مطابق ویش
13. د خوړو او درملو د کیفیت اړوند د معیاراتو په عملي کولو سره د مصؤنو درملو او خوړو بازار ته وړاندې کول

## تشکیل:

**په ټولییزه توګه په کال ۱۴۰۳ هـ لمریز کې د عامې روغتیا وزارت د عادي او انکشافي بستونو شمیر اوه دیرش زره یو سل شپاړلس ۳۷۱۱۶ وو چې:**

1. **مرکزي بستونه ۴۴۲۸ څلورزره څلورسوه اته ویشت**
2. **د مرکزي روغتونونو بستونه ۹۷۹۹ نهه زره اوه سوه نهه نوي**
3. **ولایتي بستونه ۲۱۱۸۹ یویشت زره یو سل نهه اتیا**
4. **ان تې ای ( NTA) بستونه ۱۷۰۰ اولس سوه**

**همدارنګه د عامې روغتیا وزارت اړوند روغتیایي مراکزچې د تطبیق کوونکو مؤسساتو له لوري خدمات وړاندې کیږي نږدې ۲۷۰۰۰ تنه روغتیایي کارکوونکي په موقت توګه په خدماتو بوخت دي.**

په هیواد کې د شته دولتي روغتیایي مرکزونو نوعیت او شمیره:

| شماره | د روغتیایي مرکز نوعیت | تعداد |
|---|---|---|
| ۱ | تخصصي روغتونونه | 35 |
| ۲ | حوزوي روغتونونه | 8 |
| ۳ | ولایتي روغتونونه | 27 |
| ۴ | د ولسوالۍ روغتونونه | 94 |
| ۵ | جامع روغتیایي مرکزونه | 442 |
| ۶ | اساسي روغتیایي مرکزونه | 1064 |
| ۷ | فرعي روغتیایي مرکزونه | 1408 |
| ۸ | روغتیایي ځالې | 645 |
| ۹ | ګرځنده روغتیایي تیمونه | 444 |
| ۱۰ | نور روغتیایي مرکزونه | 122 |
| | مجموعه | 4289 |

# دويم څپرکی

## ( کاري ساحې او لاسته راوړنې)

### مدیریت ،سیستم جوړونه، پالیسي، رهبري، قوانین، نوښتونه، راپورونه او همغږي

- د عامې روغتیا وزارت د نوې رهبرۍ په راتګ سره د روغتیا ملي پالیسۍ پراختیا او جوړیدنه( د پنځو کلونو لپاره )
- د رهبرۍ په هڅو د خوراکي توکو درملو او روغتیایي محصولاتو د قاچاق د مخنیوي قانون توشیح کیدنه
- د درملیزو او خوراکي توکو تاسیساتو جامع لارښودونه تصویب او خپور شول
- د لمړي ځل لپاره د غیر دولتي مؤسساتو او سازمانونو اړوند روغتیایي کارکونکو د معاشاتو ملي پآلیسۍ پراختیا تر سره شوه
- د روغتیا خیریه صندوق د طرحې نهايي کول
- د ۴۷ روغتیایي مرکزونو لپاره د پروپوزلونو او طرحې جوړول
- شپږ تقنیني مسودې ، دوه طرزالعملونه ، ۲۰۰ منشورونه ، پنځلس لایحې ، او اویا لارښودونه ترتیب شوې دي
- د عامې روغتیا وزارت د رهبرۍ په وړاندیز او د عالیقدر امیرالمؤمنین حفظه الله د ځانګړي شفقت له مخې د هیواد په ۳۱۸ ولسوالیو کې د عمومي روغتونو د جوړولو په موخه بودیجه ترلاسه او ابتدايي چارې يې ترسره شوې دي.

- د دوامداره همغږۍ او مجالسو په نتیجه کې د کډوالو عالي کمشنرۍ په مالي لګښت د شل عمومي روغتونو جوړولو چارې پیل شوې چې پنځه یې ترسره او د نورو چارې جریان لري
- د جوزجان ولایت افغان ترک د اطفالو په روغتون کې د کفیتریا، پایواز خونو او دوکانونو جوړولو پروژه چې د خصوصي سکتور لخوا په یاده پروژه کې ۱۷ میلیونه افغانۍ پانګونه شوې.
- دا چې د اسلامي امارت د حاکمیدو څخه وړاندې په هیواد کې ۱۷۴ نیمه کاره پروژو شتون درلود چې د عامې روغتیا وزارت په وړاندیز او د عالیقدر امیرالمؤمنین حفظه الله په ځانګړي شفقت د یادو پروژو د تکمیل او ګټې اخېستنې په موخه بودیجه د عامې روغتیا وزارت ته ورکړل شوه چې د تیرکال په جریان کې یې له جملې ۱۲ پروژې سر ته رسیدلې دي.
- تیر کال د هیواد شته ۲۰۲ روغتیایي مراکزو ته ارتقاء ورکړل شوې ده چې خوشبختانه د عالیقدر امیرالمؤمنین حفظه الله په ځانګړي شفقت اړوند بودیجه یې ترلاسه شوې ده.
- د بیت المال د ښې ساتنې په موخه د املاکو او اجناسو د ثبت او ساتنې په موخه منظم بریښنایي ډیټابیس جوړ او چارې یې پیل کړې.
- د HMIS سیستم د لارښود بیا کتنه ترسره او په DHIS2 کې د عامې روغتیا وزارت د یو تعداد ریاستونو د ډیټابیسنو او ارقامو ادغام ترسره شو ، همدارنګه د HER پروژې لپاره د ټول هیواد په روغتیایي مرکزونو کې د واحد ټارګیټ سیټینګ جوړ شو.
- د روغتیایي خدماتو وړاندې کولو کڅوړو (BPHS او EPHS) تر څنګ د روغتیایي خدماتو چمتو کونکو ادارو د کارمندانو په اړه د معلوماتو ثبتولو لپاره د ډیټابیس جوړ شو.
- د عامې روغتیا وزارت له لوري په لمړي ځل د خصوصي سکتور د ډیټا جمع کولو اړوند سیستم جوړ شو

## د کارکوونکو چارو اړوند ( استخدام ، ظرفیت لوړونه او اکمال تخصص )

- تیرکال په مرکزي او ولایتی بستونو کې نږدې شپږ زره درې سوه اوه شپیته ( 6367 ) مسلکي او حمایوي کارکوونکو ته د کارزمینه برابره شوې چې اکثریت یې د ازاد رقابت له لارې استخدام ته لارمونده او د عامې روغتیا وزارت په تشکیل کې استخدام شوي دي.
- د ظرفیت لوړونې برنامو د ښه تطبیق او اړتیاوو د تحلیل په موخه د ( ۳۳۰۰۰ ) کارمندانو لپاره د روزنې اړتیاوو ارزونې ډیټابیس جوړ شو همدارنګه تیر یو کال کې د روغتیا وزارت اوه ویشت زره څلور سوه اویا( ۲۷۴۷۰ )مرکزي او ولایتي کارکوونکو ته په بیلا بیلو مسلکي ،حمایوي، اداري ، مالي او روغتیایي برخو کې د ظرفیت لوړونې برنامې تر سره شوي دي.
- د ۳۲ تخصصي رشتو نصاب او کریکولم څخه بیاکتنه وشوه او د نړیوال سټنډرډ مطابق د رشتو مودې، د هر کال مکلفیتونه او د هرې رشتې دقیق استقامت تعین او ټولو ترېنې او ترېنر متخصصینو ته توزیع شو.
- د تخصص اړوند ټولې آزموینې د نړیوالو معیاراتو مطابق مرکزي او انلاین شوې چې په یو وخت اوزمان کې د آزموینو پوښتنې له مرکز څخه ترتیب او ټولو ته په یو زمان ویشل کیږي.

- د اکمال تخصص د معیاري کیدنې په موخه په لمړي ځل د نظارت اړوند یونټ په کار پیل وکړ چې د (۳۴) تخصصي مراکزو له (۳۲) تخصصي رشتو څخه یې څارنه په مرکزاو ولایاتو کې ترسره کړه.
- د لومړي ځل لپاره د تخصص معیاري سند ایجاد او تردې دمه نږدې ۹۳۵ متخصصینو ته وویشل شو.
- په ۱۴۰۳ هـ لمریزکال کې د ترینې ډاکټرانو د جذب اندازه له ۴۵۰ څخه ۸۵۰ تنو ته لوړه شوه
- د افغانستان د سیمه ایزې اپیدېمیولوژۍ پروګرام د پنځم کوهورت څخه د مرکز او ولایاتو د شل تنه مسلکي اشخاصو فراغت ترسره شو.
- د اکمال تخصص ریاست د ( ۱۱۱ )استادانو لپاره د څېړنې د میتودولوژۍ اړوند ریفریشرورکشاپونه ترسره شول
- د مړینې د طبي تصدیق پاڼې د برنامې ښه پلي کېدو په موخه روزنیزه برنامه ترسره شوه چې د هېواد له ټولو ولایتونو څخه ۳۰۶ کسانو د مړینې د اسبابو د تثبیت د برنامې د معیاري تطبیق لپاره روزنه ترلاسه کړه چې دا کړنه د مړینو د دقیقو شمیرو ، تحلیل او د اړونده علتونو له کبله په راتلونکي کې د مړینو څخه په مخنیوي کې رغنده رول لوبوي.
- د رواني روغتیا په برخه کې ۴۵۰ تنه د لمړنیو خدماتو وړاندې کولو ډاکټرانو او( ۳۲۵۰ ) تنه نرسانو ، معلمینو او د ټولنې روغتیایي کارکوونکو ته روزنه ورکړل شوه

## د روغتیایي سیستم پراختیا

- د عامې روغتیا وزارت د نوې رهبرۍ په هڅو تیرکال د نږدې شپږ میلونه ډالرو په لګښت د هیواد په اته ولایتونو کې ۱۰۵ روغتیایي خالې ( FHH ) جوړې شوې.
- د کابل ولایت انتاني او افغان جاپان روغتونو کې د دوه راډیولوژي مجهزتشخیصیه مرکزونو جوړول چې په یادو مراکزو کې به د سي تي سکین او ایکو خدمات هیوادوالو ته وړاندې کیږي.
- د نږدې ۷۶ میلونه افغانیو په لګښت په صحت طفل روغتون کې د اکسیجن د تولید د یوې لویې دستګاه نصب ، د برانکوسکوپي ځانګې او جنراتوري برق فعالیدنه ترسره شوه.
- په تخار ، بلخ ، کندهار ، هلمند ، خوست س او لوګرولایتونو کې د جدي مراقبت خونو ( ICU ) جوړیدنه
- د هیواد په ۴ ولایتونو کې د سرطان د درملنې ۵۰ بستریز او د روږدو د درملنې ۴ مرکزونه جوړیدنه
- د هیواد په دریو ولایتونو کې د (موراو ماشوم) د درملنې مرکزونه او د هیواد په ولایتونو کې د وینې بانک ۵ مرکزونه جوړشول
- په استقلال روغتون کې د یورولوژي وارډ جوړاو په خدماتو یې پیل وکړ
- د عامې روغتیا وزارت په هڅو په صحت طفل روغتون کې په لمړي ځل د ماشومانو د زړه د جراحۍ سنټرمجهز او په خدماتو یې پیل وکړ چې په دا وروستیو کې یې نږدې ۲۵ کامیاب عملیاتونه او ۲۵۰ د ایکو وریا معاینې ترسره کړي.
- د عامې روغتیا وزارت په یو نوښتي اقدام کې په لمړي ځل په کابل ښارکې د سرطان ناروغانو د درملنې په موخه د یو ۲۰۰ بستریز روغتون د چارو پیل وشو.

- د خلکو اړتیاوو ته په لیدو تیرکال په ۵ ولایتونو (غزني، ارزګان، سمنګان، پروان او بدخشان) کې د هیموډیالیز مرکزونه فعال شول
- د هیواد ۲۵ ولایتونو ته د ۴۰ امبولانسونو ویش ترڅو د ناروغانو د راجع کولو سیستم پیاوړی شي
- د لومړي ځل لپاره په ټول هیواد کې د (DNA) ازموینو د پیل لپاره د لابراتوارد وسایلو او اړتیاوو د تدارکاتو لپاره د تړون لاسلیک کول.
- د هیواد په بیلا بیلو روغتیایي مراکزو کې د ښو خدماتو وړاندې کولو په موخه د لمریزې بریښنا سیستمونو نصب کول ترسره شول.
- د روغتیایي خدماتو د ښه ترسراوي او معیاراتو د عملي کولو په موخه په ټول هیواد کې د روغتیایي مراکزو د اړتیا وړ ترمیمات ترسره شوي دي.
- د کاپیسا ولایت په تګاب ولسوالۍ کې د روغتیایي علومو انستیتیوټ کمپلیکس جوړیدنه، چې د یادې پروژې ټول لګښت ۳۲۰،۰۰۰ امریکایي ډالروته ورسیږي.
- کندزولایت کې د لمړي ځل لپاره د یو ملیون ډالرو په لګښت د زون په کچه د تشخیصیه ریفرنس لابراتوارجوړول
- کندزولایت کې د نږدې ۲۸۰ زره ډالرو په لګښت د موراو ماشوم ۱۰۰ بستریز روغتون،د شري ناروغانو درملنې لپاره د ۵۰ بسترونو، د ۱۳ اساسي ، فرعي ، رواني روغتیا او د معلولینو لپاره د بیارغونې مرکزونه جوړشول.
- ننګرهارکې د شکرناروغۍ د درملنې مرکزپه لمړي ځل فعال شو چې د پراختیا لپاره به یې لا کارکیږي
- ننګرهارکې د ۲۷ نیم میلیونه افغانیو په مالي لګښت د ختیځ زون په کچه ربفرنس تشخیصیه لابراتوارجوړشو
- د ننګرهارولایت هسکې مېنې ولسوالۍ روغتیایي مرکزودانۍ د ۲۳۹ زره ډالرو په لګښت جوړه شوه
- تیرکال هلمند ولایت کې د (۱۶) کلینیکونو لپاره ودانۍ ، د معافیت کتلوي ودانۍ او د کوچنیانو او ښځینه روږدو لپاره شل بستریز روغتون فعال شو.
- په میدان وردګوولایت کې په لمړي ځل د عامې روغتیا ریاست د امبولانس مرکزلپاره معیاري ودانۍ جوړه شوه.
- کنړولایت کې یو بشپړروغتیایي مرکزد (23.5) میلیونه افغانیو، دوه اساسي روغتیایي مرکزونوتعمیرونه د لس نیم میلیونه افغانیو، ولایتي روغتون کې ښځینه عملیات خونه او ماشومانو وارډ رغونه د (2.6) میلیون افغانیو او د ۴۶ میلونه افغانیو په لګښت ۵ نورروغتیایي مراکزاو تشخیصیه ځانګې جوړې شوې.
- په لغمان ولایت کې د اته لکه اویا زره ډالرو په لګښت ۷ روغتیایي مراکزجوړشوي ، همدارنګه د ولایتي روغتون لپاره جنراتوري برق سیستم او ځینې تشخیصیه ځانګې د یو لک پنځه اویا زره ډالرو په لګښت فعالې شوې ، د دې ترڅنګ مهترلام ولایتی روغتون کې د ICU تعمیرساختماني چارې د څوارلس ملیونه افغانیو او د اکسیجن پلانټ د نصب چارې د ۱۷ میلیونه افغانیو په لګښت جریان لري.
- لوګرکې یو جامع روغتیایي مرکزد ۳۲ میلونه افغانیو او ۵ روغتیایي ځالې د ۳۰ میلونه افغانیو په لګښت جوړې شوې.

- په نیمروزولایت کې د دوه میلونه ډالروپه لګښت د ولایتي روغتون نیمه کاره ودانۍ جوړه اوګټې اخیستنې ته وسپارل شوه ، همدارنګه ۱۵ روغتیایي ځالي ، درې پایې اکسیجن دستګاوې او د ۹ میلونه افغانیو په لګښت ولایتي روغتون ته برق ورکړل شو.
- دا چې په ټول هیواد کې د جدي مر اقبت ۱۰۰ بسترونه فعال دي اوس مهال یې د خدماتو د پراختیا او ناروغانو ته د لا اسانتیاوو لپاره ۹۷ نوربسترونه په کابل ، خوست، غزني، بدخشان اولغمان کې د فعالیدو په حال کې دي.
- د روغتیایي سیستم د پراختیا په موخه په ۱۴ اوږد مهاله انکشافي پروژو کې د خدماتو لپاره یو ملیارد څلورسوه دوه ویشت میلونه اته سوه دوه اویا زره درې سوه نهه څلویښت ( 1,422,872,349 ) افغانۍ لګښت ترسره شو چې پروژې عبارت دي له (د عاجل مر اقبت ځانګه (ICU)، دطبي توکو پیرلو پروژه، هیموډیالیز، د سرطان د کنټرول ملي برنامه، د معلولیت او فزیکی بیا پیاوړتیا پروژه، د سترګو د پاملرنې لپاره د سیاروکمپونو جوړلو پروژه او نور.. )
- د پکتیکا ولایتي روغتون ته د اتلس (۱۸) میلونه افغانیو په ارزښت طبي وسایل او درمل واخیستل شول همدارنګه په ګیان او برمل ولسوالیو کې د(۶۶) شپږ شپیته میلونو افغانیو په ارزښت د دوه روغتیایي مرکزونو ودانیزې چارې جریان لري.
- په جوزجان ولایت کې د ۱۲۳ ملیونه او پنځه سوه زره افغانیو په ارزښت قوش تیپې ولسوالی کې یو جامع روغتیایي مرکز، ولایتي روغتون کې د بیړنۍ ځانګې ، پایوازخونې او د انتاني ځانګې جوړیدنه ترسره شوه.
- خوست ولایت ته د نږدې شل میلونه افغانیو په ارزښت طبي تجهیزات واخیستل شول
- د شدیدې خوارځواکۍ ناروغانو د درملنې لپاره په مرکز او ولایاتو کې ۶ داخل بستر د درملنې مرکزونه (TFUs) جوړ شوي چې سږ کال به په هرات، پکتیکا او فراه ولایتونو کې درې نور جوړ شي.
- د مور او ماشوم خدماتو د پراختیا او ناروغانو د لاسرسي له کبله د امیدواره میندو اوپنځه کلونو څخه دکم عمره ماشومانو د مړینو شمیرکې کموالی را منځته شوی.

## د روغتیایي سیستم تمویل ، تجهیز او شفافیت

- د تیرکال په پرتله د افغانستان اسلامي امارت د روغتیایي سکتورپه ملاتړ او تمویل کې ونډه زیاته شوې ده.
- د ۱۴۰۳ هـ لمریزکال لپاره د تدارکاتي پروسو بهیرد شفافیت موثریت او مثمریت د تضمین په موخه بریښنایي شوی دی چې د پوره شفافیت په اساس تیرکال ۳۸۸ لوی او واړه قراردادونه د یو اعشاریه دوه ملیارده ( ۱،۲۲۴،۶۱۱،۳۰۹ ) افغانیو په لګښت ترسره شوي دي ، همدارنګه د عامې روغتیا وزارت د مرکز په شمول ، ۲۲ مرکزي ،۵ حوزوي او ۱۱ ولایتي روغتونونو ته د دوه اعشاریه شپږ ملیارده افغانیو په لګښت ( دوا، طبي ملزمه، مریضانو لپاره غذا، روغنیات...) اخیستل شوي دي.
- د ښې حکومتولۍ او اداري چارو د ښه والي په موخه په ځینې ریاستونو کې ډیجیټل سیستمونه جوړشوي همدارنګه په مرکز او ځینې ولایتونو کې د الکترونیکي حاضرۍ د دستګاوو نصب ترسره شوی او لا هم جریان لري.

- د ولس ستونزو ته د رسیدنې او طبي تخطیو څخه د مخنیوي په موخه تیرکال د ۵۰ شکایتونو او ۵۰ ثبت شویو قضیو بررسي ترسره شوې ده
- په تېرکال کې د مقروضیتونو پروسې د ښه مدیریت او متحدالمال د لارښونو په اساس د ټولو مشترکینو چې اسناد یې مکمل او صحت وو ۱۵ سلنه مقروضیتونه اجراء شول.
- د تیرکال په جریان کې د مرکز او ولایاتو په کچه ځینې روغتونونه چې د مختلفو نړیوالو موسسو لخوا تمویلېدل، په ناڅاپي ډول نوموړو روغتونو ته د موسساتو تمویل بند شو ، چې د عامې روغتیا وزارت له لوري یاده خلا ډکه او مالي چارې یې په ښه ډول مدیریت شوې.

## وړاندې شوي روغتیایي خدمات ( وقایوي او معالجوي)

- د ملاریا لوړګواښ سره مخ ولایتونو کې دوه لکه اوه شپیته زره دوه سوه شپږ اویا ( ۲۶۷۲۷۶) او بیرته راستنیدونکو هیوادوالو ته اولس زره نهه سوه دوه شپیته ( ۱۷۹۶۲ ) ماش لومې ( پشه خانې ) ویشل شوي دي.
- د کانګو او ملاریا ناروغیو د مخنیوي لپآره د هیواد په بیلا بیلو سیمو کې د عامه پوهاوي کمپاینونه او د دوا شیندنې فعالیتونه ترسره شول.
- د ملاریا او ناقله ناروغیو په برخه کې څلورزره اته سوه شپږ اتیا ( ۴۸۸۶ ) روغتیایي کارکوونکي روزل شوي تر څو په سمه توګه د ناقله ناروغیو څخه مخنیوی وشي.
- د توبرکلوز ناروغۍ د مخنیوي او پروخت تشخیص په موخه په ټول هیواد کې ۱۳۴ جین ایکسپیرټ ماشینونه فعال شوي دي.
- د خوندي واکسیناسیون سیستم لپاره په ټول هیواد کې روغتیایي مرکزونو ته ۵۷۱ لمریز او ۱۸ برقي یخچالونه وویشل شول
- د هغه ماشومانو لپاره چې عمرونه یې له دوه څخه تر پنځو کلونو وي او واکسین شوي نه وي د واکسین خدماتو ته د رسیدنې په موخه ۸۲۲ واکسیناتوران وګمارل شو چې هر یو ته یې یو عراده موټرسایکل وویشل شو.
- تیرکال نږدې اته میلونه ماشومان د ښري په وړاندې او نږدې څلورلکه پنځوس زره ( ۴۵۰۰۰۰) ماشومان د بیګ کیچ اپ پروګرام په مرسته واکسین شوي دي.
- د پولیو له منځه وړلو پروګرام چې نږدې یو لک هیوادوال یې اړونده برخو کې په کاربوخت دي په دا ورستیو کې، د پولیو واکسین څلورکمپاینونه ترسره کړي چې له دې ډلې یې دوه سرتاسري او دوه فرعي کمپاینونه دي ، چې په هر ملي کمپاین کې نږدې (۱۱.۲) میلیونه او په هر فرعي کمپاین کې نږدې (۷) میلیونه له پنځوکلونو کم عمره ماشومان واکسین شوي دي.
- د پولیو واکسین په دوه سرتاسري کمپاینونو کې د هدف وړ(۹.۹) میلیونه ماشومانو ته ویټامن A کپسولونه او د هدف وړ(۶.۸) میلیونه ماشومانو ته میبینډازول (د چینجیانو) ګولۍ ورکول شوي دي.

- د هیواد په کچه د ملاریا دوه لکه اوه پنځوس زره نهه سوه دوه څلویښت ( ۲۵۷۹۴۲ ) د لشمانیا اوه اتیا زره دوه سوه یو اویا ( ۸۷۲۷۱ ) او د ډینګي تبې اوه زره اته سوه اته اتیا ( ۷۸۸۸ )ناروغانو ته تشخیصیه معاینات ترسره شوې دي.
- تیرکال د هیواد په ولایاتوکې ۶ د ایډز او هیپاتایټس رضاکارانه مشاورې او معاینې (VCT) روغتیایي مرکزونه او د ۶۵ میتادون بدیل درملنې روغتیایي مرکزونه جوړشوي دي.
- تیرکال نږدې دوه اعشاریه درې میلونه ( 2329430 ) تنو ته د فولیک اسید ګولۍ ، درې اعشاریه درې میلونه ( 3320497 ) له پنځو کلونو کم عمرو ته د تغذیې اړوند تقویتي پوډر، نهه اعشاریه اته میلیونه ( 9853009 ) کوچنیانو ته د پولیو واکسین کمپآین پر مهال د ویټامین A ګولۍ ، شپږ اعشاریه اوه میلیونه ( 6734095 ) له پنځو کلونو کم عمرکوچنیانو ته د چینجیو ضد ګولۍ ورکړل شوې دي.
- د روغتیایي مرکزونو لپاره د واش پروګرام لومړی ځل په معیاري ډول ډیز این شو، چې دا نوښت د دوامداره خدماتو لپاره مهم اساس جوړوي ، په ننګرهار، پروان، دایکندی او کندهارولایتونوکې د ۱۳۸۰۰۰ په شاوخوا کې د حفظ الصحې خدمات وړاندې شوي دي.

## د یوکال په اوږدو کې لاندې روغتیایي خدمات هیوادوالو ته وړاندې شوي:

| خدمات | ارقام |
|---|---|
| سر اپا خدمات | اوه اتیا میلونه دوه لکه درې پنځوس زره نهه سوه څلورنوي ( 87253994 ) |
| داخل بسترخدمات | دوه میلونه اویا زره یو څلویښت ( 2070041 ) |
| لوی جراحي عملیاتونه | دوه لکه پنځه څلویښت زره څلورسوه ( 245400 ) |
| کوچني عملیاتونه | څلورلکه اوه زره پنځه سوه اوه ویشت ( 407527 ) |
| د هیموډیالیز،فیستولا،او د کتیترخدمتونه | درې شپیته زره نهه سوه اوه اتیا ( ۶۳۹۸۷ ) |
| د ICU خدمات | شپږ زره پنځه سوه شپږ شپیته ( ٦٥٦٦ ) |
| زیږون | یو میلون دوه لکه اته پنځوس زره پنځلس ( 1258015 ) |
| تشخیصیه خدمات | نهه میلونه څلورلکه نهه اتیا زره یو سل یوولس ( 9489111 ) |
| د امبولانس خدمات | د عامې روغتیا وزارت د ۷۲۶ امبولانسونو په توسط په مرکز او ولایاتوکې یو لک پنځلس زره درې سوه اووه ویشت ( 115327) ناروغان انتقال کړي |
| فزیوتراپي او فزیکي بیا رغونه | پنځه دیرش زره (۳۵۰۰۰) |
| د سترګې اړوند خدمات | سر اپا خدمات : یو لک پنځه ویشت زره اته سوه پنځه ویشت ( ۱۲۵۸۲۵ )<br>عملیاتونه: پنځه زره اته اویا ( ۵۰۷۸ )<br>عینکې : نهه زره اته سوه شپږ پنځوس ( 9856 ) |
| د روږدو درملنه | شپږ څلویښت زره اوه سوه شپږ دیرش ( ۴۶۷۳۶ ) |

- تیرکال د نږدې دوه اعشاریه دوه میلونه په متوسطې او شدیدې خوارځواکۍ اخته میندو او کوچنیانو درملنه ترسره شوې او سیستم کې داخل شوي دي.
- نږدې ۳۶ سوه معلولینو ته د کومکي قالبونو ، مصنوعي غړو او ویلچرونه ویش ترسره شوی دی.
- کوچیانو ته د ګرځنده روغتیا یې تیمونو له لارې یو میلون یو لک دوه ویشت زره اوه سوه نولس ( ۱۱۲۲۷۱۹ ) سر اپا ، ولادي ، واکسین ، سوء تغذیه ، توبرکلوز او د ساري ناروغیو اړوند خدمات وړاندې شوې دي.
- مهاجرینو او بیرته را ستندیونکو هیوادوالو ته یو لک اته پنځوس زره ( ۱۵۸۰۰۰ ) سر اپا خدمات او ۱۱ زره د میندو اړوند خدمات وړاندې شوي دي.
- د عدلي طب برخه کې ۶۷۱ حیاتي او ۹۱۷ فوتي و اقعاتو اړوند خدمات وړاندې شوي دي.
- تیرکال نږدې ۱۵۰۰ ماشومان چې له مختلفو روغتیایي ستونزو سره مخ وو، د لا ښې درملنې په موخه ځانګړو روغتیایي مراکزو ته معرفي شوي دي
- دا چې د عامې روغتیا وزارت په داخل د هیواد کې خپلو معززو هیوادوالو ته روغتیایي خدمات وړاندې کوي ، په همدې اساس د حج په مراسمو کې هم له هیواد بهر په سعودي عربستان کې دیرش زره ۳۰۰۰۰ حجاج کرامو ته روغتیایي خدمات او د وقایوي تدابیرو په موخه ټولو حاجي صاحبانو ته د مننجیټ او انفلوینزا واکسین تطبیق شو.

## عامه پوهاوی

د ناروغیو پر وړاندې د عامه پوهاوي ترسره کولو ، د روغتیا اړوند معلوماتو خپرولو ، او د ټولنې وګړو سره علمي او روغتیایي معلوماتو شریکولو په موخه تیرکال له بیلا بیلو لارو ګټه اخیستل شوې ده چې په نتیجه کې څوارلس سوه اته شپیته ( ۱۴۶۸ ) ویډیویي کلیپونه ،یو لک اته ځلویښت زره یو سل یو اویا ( ۱۴۸۱۷۱ ) تنو ته روغتیایي تعلیمات ، پنځه اعشاریه اوه ملیونه چاپي روغتیایي معلومات او د عامه پوهاوي بروشرونه ویشل شوي دي ، همدارنګه ۶ مجلې او ژورنالونه چاپ شوي او دیارلس زره یو سل شپږ اتیا ( ۱۳۱۸۶ )معلوماتي پوستبونه له بیلا بیلو لارو شریک شوي دي ، چې د پیغام د لا ښه رسولو په موخه د عامه پوهاوي او ناروغیو اړوند ۲۶۰ غونډې او رسنیز کنفرانسونه هم ترسره شوي دي

درمل، خوراکي او طبي توکي (د جواز ورکول، ثبتول، د کیفیت کنټرول، پراخول، د کورنیو تولیداتو ملاتړ او د قاچاق مخنیوی)

## د خوړو، درملو او روغتیایي محصولاتو د کیفیت کنټرول

- د درملو، خوړو او څښاک اوبو د یو اویا زره اوه سوه دوه اویا ( ۷۱،۷۷۲ ) څخه زیاتو نمونو د کیفیت کنټرول، چې له دې جملې څخه ۹۲۸ نمونې منفي وې او څلورزره یو سل اته اتیا ( ۴،۱۸۸ ) نمونې د مختلفو دلایلو له کبله مسترد شوي.
- د درملو، خوړو او اوبو د لابراتوار برخه کې د مختلفو نمونو لپاره ۵۲ جلده معیاري کړنلارې ترتیب شوي دي
- تیرکال په مرکز او ولایاتو کې یو زر اوه اویا ( ۱۰۷۷ ) ټنه بې کیفیته او تاریخ تیري خوراکي او درملیز توکي له منځه وړل شوي چې ۵۱۸ ټنه په مرکز او ۵۵۹ ولایاتو کې هدر شوي دي.

- **د درملو لابراتوارد مایکروبیولوژي او د طبي تجهیزاتو برخې فعالیدنه تر سره شوه**

## د درملو او خوراکي توکو د تاسیساتو او فعالیتونو جوازورکول

- **د درملو جوړولو ۱۲ فابریکو، د پرېمینځلو موادو ۳ فابریکو، د درملو ۶۱ عمده پلورنځیو، د درملو او روغتیایي محصولاتو ۱۱۳ واردونکو شرکتونو، او د درملو په تاسیساتو کې ۱۵۸۳ تخنیکي مسؤلینو ته جوازونه ورکړل شول**
- **د درملو جوړولو فابریکو او وارداتي شرکتونو ۸۲ نماینده ګیو ته په مرکز او ولایاتو کې جوازونه ورکړل شول**
- **د خوراکي توکو د تولید شرکتونو لپاره د جوازورکول تیرکال پیل شول، او تر اوسه پورې،( ۱۳۰ ) نویو تولیدي فابریکو ته د تاسیس مو افقې ورکړل شوي دي، چې له دې جملې څخه ۴۰ د خوراکي توکو د تولید فابریکو ته د فعالیت جوازونه ورکړل شول.**

## د درملو، روغتیایي محصولاتو او خوړو د صادراتو او وارداتو تنظیم کول

- **په تیرکال کې، د درملو دوه پنځوس زره څلورسوه نهه ویشت ( ۵۲،۴۲۹ ) توکي او د روغتیایي محصولاتو پنځه زره پنځه سوه نهه ویشت ( ۵،۵۲۹ )توکي چې ارزښت یې نږدې یو سل نهه څلویښت میلونه ( ۱۴۹ )ډالر دی وارد شوي دي.**
- **په تیرکال کې د وارد شویو خوراکي توکو نولس زره څلورسوه شپږ دیرش ( ۱۹،۴۳۶ ) محمولو ته بازارته د وړاندې کولو اجازه ورکړل شوې**
  - **په تیرکال کې د مختلفو خوراکي توکو تولیدي فابریکو څخه ۶۵ محصولات د عامې روغتیا وزارت سره ثبت شوي دي.**
  - **د ۲۱۵ صادرشویو خوراکي توکو محمولو لپاره "د صادراتو د روغتیا سندونه" صادرشوي دي.**
  - د کورنیو شرکتونو لخوا چې مخکې یې خپل محصولات تولید کړي وو، د درملو دیارلس سوه نهه څلویښت ( ۱،۳۴۹ ) جامع فایلونو ارزونه تر سره او ثبت شول.
  - د ۸۱ نویو شرکتونو چې ۸۸ نوي طبي توکي او روغتیایي محصولات لري ارزونه او راجسټریشن تر سره شو ، چې د تیر کال په جریان کې د ( ۳۰۱ )پخوانیو ثبت شویو طبي توکو بیا راجسټریشن هم تر سره شوی.
  - په ډیټابیس کې د کورنیو تولید شویو فابریکو د درې زره یو سل پنځه څلویښت ( ۳۱۴۵ ) روغتیایي محصولاتو ،د بوټو محصولاتو او طبي تجهیزاتو ثبت شوی دی.
  - د کابل په بیلابیلو سیمو کې ټولټال ۷۰۹ درملتونونه، ۲۲ شرکتونه، ۵۲ عمده پلورنځي د قانوني اسنادو د نشتوالي له امله تړل شوي دي.
  - په تیر کال کې، د خطر تحلیل لپاره ۲۰۸ مختلف خوراکي فابریکې څارل شوي او معاینه شوي، او په پایله کې، په دې فابریکو کې ۳۹ د خطر عوامل پیژندل شوي دي چې د دې عواملو بشپړ تحلیل ترسره شوی او اړینې لارښوونې د اړوندو څانګو او خوراکي تاسیساتو سره شریکې شوې دي.
- د مرکزي کیفیت کنټرول لابراتوار لپاره د ۱۰۰ څخه زیاتو لویو او کوچنیو تجهیزاتو اخیستنه تر سره شوه

## د داخلي تولیداتو څخه ملاتړ

- د کورني تولید ملاتړ لپاره، په هیواد کې دننه د کورنیو او بهرنیو ادارو سره تړونونه شوي دي ترڅو ډاډ ترلاسه شي چې هغه درمل او طبي محصولات چې دوی ورته اړتیا لري د کورني تولید او کورني بازار څخه تر ممکنه حده ترلاسه کړي، څکه چې د درملو، روغتیايي محصولاتو او خوراکي توکو د قاچاق مخنیوي قانون هم پدې اړه واضح دی.
- د عامې روغتیا وزارت د خوړو او درملو معینیت، د عالیقدر امیرالمؤمنین حفظه الله د فرمان سره سم، اراده لري چې په میربچه کوټ ولسوالۍ کې یوولس سوه شپاړلس ( ۱۱۱۶ )جریبه ځمکه د درملو د تولید داخلي فابریکو ته ځانګړې کړي .
- د کورنیو محصولاتو د کیفیت د ډاډ ترلاسه کولو لپاره، د عامې روغتیا وزارت د درملو او روغتیايي محصولاتو د تولیدونکو فابریکو لپاره د ښه تولیدي کړنو (GMP) اصولو او معیارونو په پام کې نیولو سره د ارزونو لړۍ پیل کړې ده ، د روغتیا نړیوال سازمان د اصولو په پام کې نیولو سره، د کیفیت لرونکو فابریکو پیژندل او د ښه تولیدي کړنو سندونه ورکول ، د یادونې وړ ده چې تر دې دمه (۶) فابریکې لیدل شوي، چې له دې جملې څخه ۴ فابریکې (ملي شفا، لایف پرل، ټي جي ایل او سنو فارما) په روان ۱۴۰۴ هجري لمریز کال کې د (جي ایم پي) سندونه ترلاسه کړي دي.

چې د کورني تولید د ښه ملاتړ په پایله کې، موږ اوس د خدای په فضل سره، نورو هیوادونو لکه یمن، عراق او ازبکستان ته سیرم صادروو.

## له خصوصي سکتور ملاتړ او پراختیا

- **دا چې په ټول هیواد کې د روغتیايي مراکزو په ایجاد کې د پام وړ اسانتیاوې را منځته شوې دي اوس مهال** په مرکز او ولایاتو کې د رجستر شویو خصوصي روغتیایي مرکزونو شمیر درې زره پنځه سوه شپږ ویشت ( ۳۵۲۶ )ته رسیږي چې یواځې تیر کال ۳۸۲ خصوصي روغتیايي مرکزونو جوازونه تر لاسه کړي او په فعالیت یې پیل کړی چې په همدې خصوصي روغتیايي مرکزونو کې د هیواد نږدې اوه څلویښت زره ( 47,000 )مسلکي او پنځه ویشت زره ( 25,000 )غیر مسلکي کارمندانو ته د کار او خدمت ذریعه برابره شوې
- د خصوصي روغتیايي مرکزونو د معیاري کولو ، جوازونو ترلاسه کولو او د خصوصي او عامه روغتیايي مرکزونو ترمنځ د همغږۍ رامینځته کولو لپاره د هیواد زونونو ته د سفرونو پر مهال د 470 روغتونونو او نورو خصوصي روغتیايي مرکزونو څخه لیدنې تر سره شوې.
- د ډاکټرانو لپاره د( ۱۲۲۰ ) راجستریشن کارتونو صادرول ،درې زره د فعالیت جوازونه او د ۹۰۰ هغو ډاکټرانو لپاره د فعالیت جوازونو د صادرولو پروسه تر سره شوې چې په روغتونونو او کلینیکونو کې مسلکي او کلینیکي فعالیتونه ترسره کوي

## نظارت ، ارزونه او روغتیايي معلومات:

- **د تیر کال په جریان کې د خصوصي روغتیايي مرکزونو لپاره د نظارت چکلیستونه نوي شول او د ۵ ریاستونو په شمول د ګډ نظارت ترسره کولو پروسه شروع شوه .**
- **د عامې روغتیا وزارت د بیلا بیلو ریاستونو مسؤلینو له لوري په خپل اړوند مسؤلیت کې له پروژو . روغتیايي مرکزونو، ښوونیزو مراکزو درملیز تاسیساتو ، غذايي تاسیساتو ، اشتهاراتو، تشخیصیه مرکزونو ، اصنافو ،**

**انتنونو ، دولتي خصوصي او د تطبيق كوونكو مؤسساتو له مراكزو څخه په جمعي توګه اوه شپيته زره دوه سوه يويشت ( ۶۷۲۲۱) نظارتونه ترسره شوي دي.**

- **په ۳۴ ولايتونو کې د دولتي روغتيايي خدماتو EPHS ، BPHS، كتلوي معافيت او فرعي پروژو نظارت په برياليتوب ترسره شو او راپورونه د تطبيق كوونكو موسسو، تمويل كوونكو ادارو، ولايتي عامې روغتيا رياستونو او د عامى روغتيا وزارت اړونده رياستونو سره شريک شوي**

**د تمويل کونکو او نړيوالو شريکانو سره همغږي(د تمويل کونکو پېژندنه، د مرستې ترلاسه کول، همغږي کول، د موسسو ثبت او راجستر کول)**

- تير کال د هيواد په مرکز او ولاياتو کې د خيريه بنسټونو ، مؤسساتو او نړيوالو ادارو په مرسته **دوه سوه درې شپيته ۲۶۳ ميليونه افغانى د روغتيا په سکتورکې مرسته شوې چې بيلا بيلې اړينې روغتيايي برخې پرې جوړې شوې دي.**
- د عامې روغتيا وزارت د نوې رهبرۍ په راتګ سره د هوکړه ليکونو د چټک او معياري طی مراحلو لپاره د عامې روغتيا وزارت **د هوکړه ليک نوې بڼه** او همداراز يو واضح لارښود ترتيب کړ، څو موسسو او بنسټونو ته په چارو کې اسانتيا برابره کړي چې په همدې اساس تير کال ۳۵۴ **هوکړه‌ليکونه** له دولتي او غير دولتي موسسو او بنسټونو سره له لاسليک وروسته نهايي کړي دي چې په مرسته يې ميلونونه هيوادوالو له روغتيايي خدماتو برخمن شول .
- د ځينې هېوادونو او مرستندويو بنسټونو له لوري تير کال ۶ **جوړې مرستې** ترلاسه شوي چې په يادو مرستو کې درمل ، طبي تجهيزات ، امبولانسونه او واکسين شامل وو.
- ۱۸۰ **کورني او بهرني موسسات او بنسټونه** چې د روغتيا په برخه کې کار کوي، ثبت او راجستر شوي دي.

**سفرونه:**

**د عامې روغتيا وزارت رهبرۍ او تخنيکي استازو په تيرکال کې ۴۰ رسمي سفرونه بهرنيو هيوادونو ته ترسره کړي دي چې ياد سفرونه جاپان ، ازبکستان ، ماليزيا ، سويس ، قطر ، ايران ، پاکستان او تايليند هيوادونو ته ترسره شوي دي ، د دې سفرونو موخه د روغتيا په برخه کې همغږي ، همکاري ، د ساري ناروغيو کنټرول ، ظرفيت لوړونه او د نړيوالې ټولنې د روغتيا په برخه همکارۍ ته هڅونه وه.**

# څلورم څپرکی

## راتلونکي پلانونه:

1. د عامې روغتیا وزارت لپاره د ملي ستراتیژي جوړول
2. د روغتیایي کڅوړو BPHS او EPHS بیا کتنه او مدغم والی ترسره کول
3. د ولسوالۍ په کچه د خدماتو پراخوالی او تقویه کول
4. د بیړنیو پیښو پر مهال د خدماتو لپاره پر لویو لارو د ټروما سنټرونو جوړول
5. د دولتي روغتونو د ریفورم او اصلاح برنامو عملي کول
6. د سرطاني ناروغانو اړوند د شته خدماتو پراخوالی
7. د خصوصي سکتور د خدماتو اصلاح او اعتبارورکونه تر څو خدمات معیاري او بیې مناسبې شي.
8. د تخصصي او فوق تخصصي برنامو ایجاد ، پراختیا او له نړیوالو ادارو سره همغږي.
9. د ساري او غیر ساري ناروغیو کنترول او د پولیو ناروغۍ محوه کولو لپآره کار
10. د غوره او با کیفیته درملو د وړاندې کولو او تولید لپاره له داخلي تولیداتو ملاتړ او د واردیدونکو درملو د کیفیت کنترول
11. د عامه او خصوصي مشارکت څخه ملاتړ او د روغتیا په برخه کې د پانګونې لپاره زمینه سازي
12. دا چې د روغتیایي سیستم سره د نړیوالو مرستې ورځ تر بلې کمیږي مونږ پلان لرو تر څو اړونده برخو کې د نړیوالو مرستو تر څنګ له خپلې داخلي بودیجې څخه هیوادوالو ته خدمات وړاندې کړو چې دا د روغتیایی خدماتو د خود کفاء کولو لپاره ستر ګام دی.
13. په هیواد کې د ۱۷۴ نیمه کاره ساختماني پروژو ترسره کول چې له نیکه مرغه تیر کال یې د دولسو چارې ترسره شوې ، همدارنګه د ننګرهار ولایت ختیځ کمپلکس او د کنړ ولایتي روغتون چارې د نږدې نهه سوه میلونه افغانیو په ارزښت عملا پیل شوې.

و من الله توفیق